دافغانستان اسلامـــي جمهوری دولت
د ټــاکنــوخپلـــواک کميسيـــون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کميسيون مســـــــتقل انتخابات

**Islamic Republic of Afghanistan**
**Independent Election Commission**

---

**د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرېکړه لیک**

| | |
|---|---|
| د پرېکړې شمېره | ۱۳۹۳/۲۰ |
| موضوع: | د رأیو د بیاشمېرنې، تفتیش او د تفتیش په پایله کې د رأیو د بې اعتباره کولو او د ۱۳۹۳ کال د غبرګولې د ۲۴ مې نېټې د ولسمشریزو ټاکنو د دویم پړاو په اړه د داسې اړوندو موضوع ګانو په اړه د رسیده ګې طریقه |
| تطبیقوونکی مرجع: | د ټاکنو خپلواکمیسیون دارالانشاء |
| د جلسې نېټه او ځای | د ۱۳۹۳ کال د غبرګولې ۲۲مه، چې د ۲۰۱۴ کال د جون له ۱۲ مې سره سمون خوري. د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر |
| حاضر غړي: | ښاغلی ډاکټر احمد یوسف نورستاني، ښاغلی عبدالرحمن هوتکي، آغلې ګلالی اخکزی، ښاغلی سریر احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني، ښاغلی محمد عزیز بختیاري، ښاغلی قاضي سلیمان حامد، آغلې لیلا احراري او آغلې شریفه زرمتی وردګ. |

د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنېزو شکایتونو خپلواک کمیسیون د تشکیل، دندو او صلاحیتونو قانون (۱۳) مادې او د ټاکنو قانون د ۵۸ او ۵۹ مادو پر اساس پرېکړه وکړه چې :

**۱ . عمومیات:**

1. **د پایلو په فورمو کې د ۶۰۰ رأیې پاڼو د بېلانس د تثبیت له پاره په ډېټابس کې یو اضافي کالم په پام کې نیول شوی دی.**
2. **که چېرې د پایلو فورمه په یوه محل کې موجوده نه وي، د یاد محل پایلې په نا کارول شوې رأیې پاڼه کې لیکل کیږي اوکه چېرې په یوه محل کې ټولې رأیې پاڼې کارول شوي وي، پایلې د رأیې پاڼې په شا کې لیکل کیږي او که چېرې د محل رییس او د ناظرانو لاسلیک په کې موجود وي پرووسس کیږي.**
3. **که چېرې په یوه مرکز کې محافظتي کڅوړه نه وي ، د همغه مرکز د محلونو د پایلو فورمې دې په نصواري رنګو کڅوړو کې واستول شي او د کڅوړو له راستولو مخکې باید د ولایتي دفتر مسوول د هغو بشپړ ریپورټ مرکزي دفتر ته ورکړي. او دغه کڅوړې د پروسس له پاره یوازې د کمیسیون په غونډه کې پرانستل کیږي.**
4. **د پایلو په فورمو کې د عددي او حروفي رقمونو دتوپیر او تناقض په صورت کې، که چېرې د رأیو شمېر په حروفو باندې له ۶۰۰ څخه زیات وي، عدد ته اعتبار ورکول کیږي او له هغه پرته حروف داعتبار وړ دي.**
5. **هغه محلونه چې د پایلو فورمې یې د محل د رییس له خوا مهر او لاسلیک شوي وي، پروسس کیږي.**

6. **هغه مرکزونه او محلونه چې د هغو په اړه د کميسيون د سيمه ييزو مسوولانو، څارونکيو او کتوونکيو له خوا د کاروونکيو د وهلو او ډبولو او له زور زياتي څخه د کار اخېستلو ريپورټونه ورکړل شوي وي، د تصميم نيونې له پاره له اثباتيه مدارکو او اسنادو سره يو ځای کميسيون ته وړاندې کېږي.**
7. **په هغو محلونو کې چې صندوقونه په زور سره ډک شوي وي، د ولايتي دفتر د مسوول له اثباتيه اسنادو او مدارکو سره يو ځای د تصميم نيونې له پاره کميسيون ته وړاندې کېږي.**

**۲. د مشکولو پايلو د فورمو اړوندو صندوقونو رأيې پاڼې په لاندې مواردو کې بياشمېرل کېږي:**

- د پايلو هغه فورمې چې په هغه کې عددي او حروفي رقمونه قلم خورده ګي ولري او يا د لايحې مطابق په سره قلم باندې تصحيح شوي نه وي، بيا شمېرل کېږي. که چېرې حروفي قلم خورده ګی ونه لري، پروسس کېږي.
- په هغه صورت کې چې د پايلو په فورمه کې د دواړو نوماندانو رأيې له ۶۰۰ څخه ډېرې وي، د همغه محل رأيې بيا شمېرل کېږي.

۳. د مشکولو پايلو د فورمو اړوندو صندوقو نو رأيې پاڼې په لاندې مواردو کې تفتيش کېږي:

- د هغو پايلو فورمې چې د محل د رييس له خوا مهر او لاسلکي شوي نه وي او همدارنګه د څارونکيو لاسليک ونه لري، تفتيش کېږي
- د رأيې ورکونې هغه محلونه چې د پايلو فورمې يې د محل د رييس له خوا مهر او لاسليک شوې نه وي، تفتيش کېږي.
- په هغه صورت کې چې د پايلو په فورمه کې د څارونکيو او د محل د رييس د لاسليک او مهر ځای تخريب شوی وي او يا د ليد وړ نه وي، د اړوندو رأيو صندوق تفتيش کېږي.
- په هغه صورت کې چې د پايلو فورمه د محل د رييس يوازې مهر او يا يوازې لاسليک ولري او يا يوازې يوه ناظر لاسليک کړې وي، تفتيش کېږي.
- په هغه صورت کې چې د پايلو فورمه د محل د رييس يوازې مهر او يا يوازې لاسليک ولري او څارونونکيو نه وي لاسليک کړې، تفتيش کېږي.

۴. د مشکولو پايلو د فورمو اړوندو صندوقونو رأيې پاڼې په لاندې مواردو کې تفکيک او بيا شمېرل کېږي:

- په هغه صورت کې چې له يوه محل څخه زياتې رأيې د پايلو په يوه فورمه کې درج شوې وي،د دواړو محلونو رأيې تفکيک او بيا شمېرل کېږي.

۵. د مشکولو پايلو د فورمو اړوندو صندوقو نو رأيې پاڼې په لاندې مواردو کې تفتيش او بيا شمېرل کېږي:

- هغه د پايلو فورمې چې د محل د رييس له خوا مهر او لاسليک شوې نه وي او څاروونکيو هم نه وي لاسليک کړی او همدارنګه قلم خورده ګی ورلري او په سره قلم اصلاح شوي نه وي، تفتيش او بيا شمېرل کېږي.

۶. د هغو محلونو رأيې پاڼې چې د پايلو فورمې يې شکمنې وي، په لاندې مواردو کې بې اعتباره ګڼل کېږي:

- په هغه صورت کې چې د رأيې ورکونې د يوه محل د رأيو رشمېرنې پايلې په سپين کاغذ کې درج شوي وي.

۷. د تفتيش په چک ليست کې لاندې پوښتنې مطرح شوي دي:

- آيا د رأيې پاڼو صندوقونه هغه نوعيت لري، چې کميسيون د دغو ټاکنو له پاره توزيع کړي وو؟

- د رأيو پاڼو صندوقونه هغه  ليبل لري چې د رأيې ورکونې د کوډ ښودنه وکړي؟
- آيا د رأيې پاڼو صندوق روغ  او سالم دی؟
- آيا د رأيې پاڼو صندوق  څو پلاستکي مهرونه لري؟ او له هغه څخه څو دانې يې سالم دي؟
- آيا قلفونه نه يې د لاس په فشار سره خلاصيږي؟
- د قلفونو سريال نمبر  د قفل له ثبت شويو شمېرو سره چې د صندوق په منځ کې دي، مطابقت لري؟
- آيا د پايلو د فورمې کاپي  د رأيې پاڼو په صندوق کې شته؟
- آيا په صندوق کې ناکارول شوې، ضايع شوې او باطلې شوې پاڼې شته؟
- آيا د صندوق په منځ کې نښه شوې پاڼې چې له کندې څخه نه وي بېلې شوې ، شته دي؟
- آيا په نوماندانو پورې د اړوندو رأيې پاڼو شاته د تأييدي مهر لګول شوی دی؟
- آيا رأيې پاڼې د لايحې مطابق نښه شوې دی؟

۸. د تفتيش په پايله کې د رأيو د بې اعتباره کولو معيار په لاندې توګه دی:

- د ټولو هغو محلونو رأيې بې اعتباره  دي چې په هغو صندوقونو کې چې کميسيون د  ۱۳۹۳ کال  د ولسمشريزو او ولايتي شوراګانو له پاره په پام کې نيولی، نه وي اچول شوې وي .
- ټولې هغه نښه شوې پاڼې چې له کندې څخه بېلې شوې  نه وي ، بې اعتباره دي.
- ټولې هغه رأيې پاڼې بې اعتباره ګڼل کيږي چې په شاه کې   تأييدي مهر ونه لري.
- په هغه صورت کې چې رأيې پاڼې د لايحې پر خلاف نښه شوې وي، يوازې همغه رأيې بې اعتباره کيږي.

د تر سره شويو ارزونو او څېړنو په اړه د کميسيون تصميم د څارونکيو، کتونکيو او رسنيو پر وړاندې اعلامېږي.

د دغه پرېکړه ليک په تصويب سره  ټول هغه تصميمونه چې  په ( ۲،۳، ۵ او ۸ ) شمېرو پرېکړه ليکونو کې منعکس شوي وو،  د ولسمشريزو ټاکنو په دويم پړاو ټاکنو کې د تطبيق وړ نه دي.

| له پرېکړې سره په مخالفت کې | د غړو نومونه | د پرېکړې تايد |
|---|---|---|
| | ښاغلی ډاکټر احمد يوسف نورستاني | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکي | |
| | آغلې ګلالی اڅکزی | |
| | ښاغلی سرير احمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسين ګرزيواني | |
| | ښاغلی محمد عزيز بختياري | |
| | ښاغلی قاضي سليمان حامد | |
| | آغلې ليلا احراري | |